# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |

درویش وردګ

۰۵ اپریل ۲۰۱۵

## دافغانانو اوښ دپنجاپیانوپه خره پسی مه تړی!!!

وایی په پخواوختوکی دملګروملتونودعمومی غونډی له پای ته رسیدو وروسته ښاغلی، کارتر، بریژنف او سردارمحمد داوودخان دری واړه په یوه موټرکښی کښیناستل ترڅودمنهټن له مازدیګرنی ښکلا څخه خوند واخلی: کله چی لومړی څلور لاری راورسید، نوچلوونکی مخ بریژنف ته واړاوه چی ښاغلیه کومی خواته وګرزو؟ برژنف ورته په ځواب کی وویل چی مونږ چیپان یو اوکینی خواته وګرزه! بیا چی کله دوهم څلورلاری راغی نو چلونکی مخ کارټر ته واړاوه چی ښاغلیه کومی خواته وګرزو؟ کارتروویل چی مونږ خوراستیان یو اوښی خواته وګرزه. بیاچی نو دریم څلورلاری راورسید نوچلوونکی دسردارداوودخان څخه وپوښتل چی ګرانه میلمه کومی خواته وګرزو؟ خدای بخښلی داوودخان ورته وویل چی اشاره کینی خواته ولګوه او خپله ښی خواته وګرزه؟؟؟

همداغ چپه ګرزیدنه ددی لامل وګرځیده چی دهیواد په سیاست کی ټکراوتصادم رامنځ ته شی ، چی څلورلسیزی وشوی زمونږ ولس یی بیه پری کوی.

هوکی! دافغانستان معاصرتاریخ ته که چیری وکتل شی، نو دلویی لوبی پروړاندی افغانستان ناپیلی اوبی پری پاته شوی، کومه خبره چی دنولسمی پیړی د کریمیا په ترون کی دانګلیس او روسانو ترمنځ پری هوکړه شوی وه. همدا سیاست په لومړی نړیواله جګړه کی(۱۹۱۸-۱۹۱۴) امیرحبیب الله خان غوره کړی و. کله چی دعثمانی ترکانو اوجرمنانو ګډ پلاوی له ډیروعدو اووعیدوسره کابل ته راغی ترڅوامیردخان په پلوی په جګړه کی دښکیل کیدو لپاره وهڅوی؟ ولی امیردخلکوسره دمشورو وروسته پلاوی ته د «نه» ځواب ورکړ اورخصت یی کړ.په همدی وخت کی دروسانو پلاوی هم دامیر دهڅولو لپاره په کابل کی میشت و.

په دوهمه نړیواله جګړه کی(۱۹۴۵-۱۹۳۹) بیا هم دافغانستان مشران په جګړه کی دښکیلیدولپاره وبلل شول، ولی ظاهرشاه دلویی جرګی په رابللو سره دافغانستان بی طرفی (ناپییلتوب) وساته اوپه جګړه کی ورګډنشو!

اوس چی دلوی منځنی ختیځ اونړیوال نوی نظم دټینګښت، هڅی روانی دی اوپانګوالی خپل پرهارونه دولسونو په وینوپریوی اوتوری لښکری یی داسلام په نامه راخوشی کړی اوګام پرګام یی دموخولپاره رهبری کوی، جګړی ځیلی افغانستان هم په دی غوبل کی ورګډ شو! اودخپل اوښ مهار یی دپنجابی خره پسی وتاړه اوپرته له دی چی دهیواد تاریخ ته وګوری اویا دولس سره خوښه وکړه، دیوه وفادارمزدورپشان یی دخپل بادار دخوښی لپاره غاړه تازه کړه! وایی:«نوکرنو آهورا به دوش میګیرد؟؟؟ په افغانستان کی ۳۵ کاله توده جګړه او همدا اوس د۵۱

هیوادونو ترسپوړموپه وسلو پټ سرتیری په ورځنیو عملیاتو بخوت دی، اوپه هیواد سوله اوټیکاو نشی راوستی؟ دوی غواړی په یمن کی په جګړه کی ورګډ شی!
آیا دع او غ حکومت به ددغه چوپړپه په بیه کی په هیواد کی سوله اوټیکاو راوستی شی؟ داسی ښکاری چی دافغانستان بهرنی سیاست به لکه دامیر عبدالرحمن خان له وخته وروسته ترډیره په پاکستان( دانګریزدمیراث خورپه توګه) پوری تړلی وی. څکه سعودی خوله پاکستانی جنرالانو په زغرده وغوښتل ترڅو دملکی الیزابت په دغه مارش کی مټی پورته واچوی. وایی: ورکه دشی مینځه چی دمینځی کالی مینځی!!!
که چیری دع اوغ حکومت ستری ملی چاری ، لکه امنیتی سرتیټی تړون اودآل سعود څخه دړانده ملاتړ اوداسی نوری چاری، پخپل سر اوپرته دولس له مشوری ترسره کړی؟ نو لیری به نه وی چی ددی حکومت برخلیک به دډاکترنجیب په شان خواښینوونکی وی.
په درناوی